بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحریر
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

شنبه، 18 ربیع الاول، ۱۴۴۶هـ | ۲۰24/۰9/21م | ګڼه: ح.ت.افغ 8/۱۴۴۶

مطبوعاتي اعلامیه

# ملي سرود د ملي‌پالنې ترانه ده چې د نوي جاهلیت تعصب ژوندی ساتي

په وروستیو کې د پاکستان په پېښور کې د افغانستان د حکومت سرکونسل او په ایران کې په یوه نړیواله غونډه کې د افغانستان ډیپلوماتیک استازي د دغو دوو هیوادونو د ملي سرودونو په احترام له درېدو څخه ډډه وکړه. دغه اقدامات د پاکستاني او ایراني مقاماتو له منفي غبرګونونو سره مخ شول او دا یې ډیپلوماټیک عرف او نړیوالو قوانینو ته بې احترامي وګڼله.

مونږ دغه اقدامات ستایو او د ایماني شجاعت او اسلامي احساس نښه یې ګڼو. په واقعیت کې ملي سرود د ملي‌پالنې هغه ترانه ده چې د نوي جاهلیت تعصب ژوندی ساتي. په معاصره نړۍ کې «ملت» د حاکمیت سرچینه او د حق او باطل معیار ګرځېدلی، ملي ګټې د حرامو او حلالو ځاې‌ناستې شوې، ملي دولتونه د امت د وحدت مانع او د خلافت بدیل شوي دي، ملي پولې د اسلامي امت تر منځ د تفرقې پر کرښو بدلې شوې او ملي بیرغونه هم د جاهلیت د بیرغونو په څېر د امت پر ټوټه، ټوټه وجود مبخ شوي دي.

همدا ملي‌پالنه ده چې د امت مهمې قضیې لکه د غزې قضیه یې د فلسطین د کورنۍ قضیې کچې ته را کوچنۍ کړې ده او «اسرايل» او د هغه نړیوالو ملاترو ته یې جرأت ورکړی چې نسل‌وژنه وکړي. پر دغه اساس، ملي ارزښتونه «محترم» نه دي چې د هغو بد ګڼل بې احترامي وبلل شي. له بده مرغه، نن د ملت او ملي‌پالنې د مفاهیمو داسې تقدیس کېږي، لکه پخوا چې به بتانو ته عبادت کېده؛ د هغوی لپاره به قرباني ورکول کېده او د هغو د دفاع لپاره به جګړې کېدلې. له دې امله، نه یوازې دا چې دغو معاصرو «بتانو» ته درناوی حرام دی، بلکې واجب ده چې مات کړل شي.

**أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً ۖ إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ** [الانعام:۷٤]

**ژباړه:** *«ایا تاسو بتان معبودان ګرځوئ؟ زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهۍ کې وینم.».*

مونږ مسلمانان د نړیوال عرف مخالف نه یو، خو دا چې نن دغه عرف په سیکولر او اسلامي ضد افکارو ککړ شوی، نو د هغه له پیروۍ څخه ډډه کوو. نړیوال قوانین له سیکولر عقایدو څخه راوتلي او د اسلام خلاف بولو.

له بده مرغه ځینو استازو وروسته ښښنه وغوښته او څرګنده یې کړه چې د کوربه هېواد ملي سرود ته د بې احترامۍ نیت یې نه درلود. مونږ هغوی ته وایو چې د اسلام د غربت (نا اشنایۍ) په عصر کې باید د نړیوالې فضا تر اغېز لاندې را نه شي او د هغو کسانو پر توصیه عمل و نه کړي چې د مصلحت تر نامه لاندې شریعت قرباني کوي. اسلام مونږ په هر ډول شرایطو کې پر حق مسیر استقامت ته را بللي یو او له شک پرته د غربت په دې دوران کې اسلام تر هر وخت ډېر پر صبر او استقامت ټینګار کوي. همدا شان د اخر الزمان په فتنو کې صابر کس هغه څوک دی چې پر اسلام عمل د هغه لپاره په لاس کې د سکروټې نیولو په څېر وي؛ ځکه چې هغه د هیڅ قدرت، هیڅ سیاسي فضا، هیڅ منفعت او مصلحت او هیڅ دستور او فرمایش تر اغېز لاندې نه راځي.

دا یو منل شوی واقعیت دی چې هر څومره چې نړیوال سیکولر نظم ته ډېر ننوځې، نو حتا ستاسو تر ټولو کوچنی اسلامي احساس به ځپل کېږي او تاسو به شاتګ ته اړ ایستل کېږئ. پر دغه اساس، ملي دولت ته باید «نه» وواياست او ملي پولې باید ماتې کړئ، ځکه چې د بتانو ماتول د دې امت رسالت دی. د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم د بتانو او جاهلي افکارو په ننګولو کې پوره صراحت درلود او هیڅکله یې شاتګ نه کاوه. لکه څه ډول چې د مشرکانو مشرانو له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه وغوښتل چې د هغوی عقایدو او بتانو ته دې سپکاوی نه کوي او له خپل رسالت څخه دې لاس واخلي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«والله لو وضعوا الشمس في يميني، والقمر في يساري على أن أترك هذا الأمر حتى يظهره الله أو أهلك فيه ما تركته»**

**ژباړه:** *«زما دې پر الله تعالی قسم وي، که دوی لمر زما په ښي لاس کې کېږدي او سپوږمۍ مې په کیڼ لاس کې کېږدي، تر څو زه دا کار پرېږدم، تر هغه پورې به یې پرې نه ږدم چې یا یې الله تعالی اظهار (غالب) کړي او یا به په دې لاره کې ووژل شم».*

د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info

د حزب التحریر ولايه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org